




د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# عبدالحفیظ « ملیار ـ ساپی »

د نشرنیټه: 7 سپتامبر 2026 میلادی

# شاعر کیدای نه شي




د عشق په اور، چې زړه کباب نه وي
چاودې په زړه لکه حباب نه وي

ستي احساس ،چې یې جذبې ونه کړي
چې پتنګانو کې حساب نه وي

دیار د در، چې ملنګي ونکړي
څیرې ګریوان تار د رباب نه وي

چې له دردونو یې دیوان ډک نه وي
چې ارمانونه یې کتاب نه وي

له نفرتونو، چې بیزاره نه وي
لکه ګلاب نرګس شباب نه وي

شاعر کیدای نه شي حفیظ « ملیاره »
اوښکې د مینې چې دریاب نه وي
***

عبدالحفیظ « ملیار»

اصلی صفحه ــ www.said-afghani.org